# سُبْحَانَ الله، مؤمن نه ناپاکه کېږي

له ابو هریره - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم ورسره د مدینې په یوه لار کې پداسې حال کې مخ شو چې دی د جنابت په حال کې و، نو پناه شو او ولاړ، غسل یې وکړ، رسول الله صلى الله علیه وسلم ولټاوه، نو کله چې ورته راغی ویې ویل: «ابوهریره چېرته وې؟» هغه وویل: اې د الله رسوله، ته راسره پداسې حال کې مخ شوې چې زه په جنابت کې وم، نو زړه مې ونه غوښتل درسره کښېنم تر څو مې نه وي لامبلي، نو رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: «سُبْحَانَ الله، مؤمن نه ناپاکه کېږي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم د مدینې په یوه لاره کې له ابو هریره رضی الله عنه سره مخ شو، حال دا چې ابو هریره رضی الله عنه د جنابت په حال کې و، نو رسول الله صلى الله علیه وسلم ته یې د احترام په خاطر له هغه پټه ولاړ او غسل یې وکړ،سره د جنابت په حال کې ناسته او خبرې کول ناسم وګڼل، پدې ګمان چې ناپاکه دی، نو په بیا بېرته راغی او کښېناست، نو رسول الله صلى الله علیه وسلم ترې وپوښتل چې چېرته تللی وې؟ نو خبر یې کړ چې نه یې غوښتل د جنابت له امله د ناپاکۍ په حال کې ورسره کښېني، نو رسول الله صلى الله علیه وسلم تعجب وکړو او ورته یې وفرمایل: مؤمن پاک وي او هېڅکله نه ناپاکه کېږي؛ هغه که مړ وي او یا ژوندی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3076

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee